د لمانځه ژباړه

تکبير

اَللّٰهُ اَكْبَرُ

الله خورا لوی دی

ثنا

سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ

ای الله تا ته پاکي ده

وَبِحَمْدِكَ

او ستا په ستاینه

وَتَبَارَكَ اسْمُكَ

او ستا نوم برکتي دی

وَتَعَالٰى جَدُّكَ

او ستا شان لوړ دی

وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ

او بې له تا د عبادت وړ نه سته

تعوذ

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ

له رټلي شيطانه په الله پناه غواړم

تسميه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د لوراند، لورين الله په نوم

سورة الفاتحة

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ

ټولي ستايني يوازي الله لره دي چي د کائناتو پالونکی دی

الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

لوراند ، لورين دی

مٰلِكِ يَوۡمِ الدِّيۡنِ

د بدلې د ورځي ښبتن دی

اِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَاِيَّاكَ نَسۡتَعِيۡنُ

يوازي ستا عبادت کوو او يوازي له تا مرسته غواړو

اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ

موږ ته نيغه لاره وښيه

صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ ۙ

د هغو کسانو لاره چي تا پرې پېرزوينه کړې ده

غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّآلِّيْنَ

نه د هغو كسانو (لاره) چي غوسه پرې سوې او نه د هغو چي لار ورکي دي

آمِيْنَ

(الله) دعا مو قبوله کړې

سورة الاخلاص

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ

وو ايه هغه الله يو دى

اَللّٰهُ الصَّمَدُ

الله هيچا ته اړ نه دى او ټول هغه ته اړ دي

لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ

نه يې څوك زيږولي او نه له چا زيږيدلى دى

وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ

او نه يې هيڅ سيال سته

د رکوع تسبيح

سُبۡحٰنَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡمِ

زما لوی پالونکي لره دي پاکي وي

تسميع

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَهٗ

الله له هغه چا اوري چي ستاينه يې کوي

تحميد

رَبَّنَا لَكَ الۡحَمۡدُ

زموږ پالونکي ستايني تا لره دي

د سجدې تسبيح

سُبۡحٰنَ رَبِّيَ الۡاَعۡلٰى

زما اوچت پالونکي لره پاکي ده

تشهد

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰةُ وَالطَّيِّبَاتُ

ټول ژبني، بدني او مالي عبادتونه الله لره دي

اَلسَّلَامُ عَلَيۡكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ

اى نبي پر تا دي سلامتيا وي

وَرَحۡمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ

او (پر تا دي) د الله لورونه او پرېمانې وي

اَلسَّلَامُ عَلَيۡنَا

پر موږ دي سلامتيا وي

وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ

او د الله پر ښو بنده ګانو

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ

ګواهي ورکوم چي له الله پرته هيڅوک د عبادت وړ نه ستره

وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

او ګواهي ورکوم چي محمد يې بنده او استازی دی

درود شريف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ

ای الله پر محمد ولوربږه

وَعَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ

او د محمد پر اهل (او عيال) باندي

كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِمَ

لکه څنګه چي ته پر ابراهيم لورېدلی یې

وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِمَ

او د ابراهيم پر اهل

اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ

بېشکه ته ستايلی او لوی یې

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ

ای الله محمد او د محمد اهل برکتي کړه

كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِمَ

لکه چي دي ابراهيم او د ابراهيم اهل برکتي کړي دی

اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ

بېشکه ته ستايلی لوی یې

دعاء

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً

اى الله، زموږ پالونكې په دنيا كي ښېګڼه راكړې

وَفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً

او په قيامت كي ښېګڼه (راكړې)

وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ

او موږ د اور له كړاوه وساتې

سلام

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ

پر تاسي دي سلامتيا او د الله لورونه وي

دعاء قنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنكَ وَنَسْتَغْفِرُكَ

اى الله له تا مرسته غواړو او له تا بخښنه غواړو

وَنُؤْمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ

او پر تا مو ايمان دى او پر تا مو بروسه ده

وَنُثْنِىْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ

او ستا غوره ستاينه کوو او ستا مننه کوو

وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ

او ناشکري دي نه کوو او له هغه چا جلا کيږو او پريږدو يې څوک چي له تا سرغړوي

اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّىْ

اى الله يوازي ستا عبادت کوو او تاته لمونځ کوو

وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ

او تا ته سر ږدو او ستا خوا ته درځغلو او امر ته دي حاضر يو

وَنَرْجُوْ رَحْمَتَكَ وَنَخْشٰى عَذَابَكَ

او ستا د لورېينې هيله كوو او ستا له كړاوه وېرېږو

اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ

بېشكه كړاو دي په كافرانو منبتى دى